۴۱ ورکړی وه پهغه ځای کښ واوسیده * هغه وقت
ډیر خلق پهڼوړ دهغه راغلل او وئیویل چه یوحنا
هیڅه عجیبه کړی نه وه مګر یوحنا ددیه سړي
۴۲ پحق کښ چه ویلی وو هغه واړه ربښتیا دي * او پهغه
ځای کښ ډیرو پهغه باند یقین وکړ *

## ۱۱ یوولسم باب

۱ پس لهغه مریم او دهغې خور مارتا پهرهغه کلي کښ چه
اوسیدلي هغه بیت‌عنیا په نبهرکښ لازار نومانه یو سړي
۲ ناجوړه وه * هرهغې مریم چه څښتن لره خوشبوي تیل
لګولي‌وو او لهڅپلو ویښتو څخه دهغه ښپي پاکیزه
۳ کړي وي دهغې ورور لازار بیمار وه * دپاره ددیه دهغې
خور سړي ورلیږلي هغه‌تعیئ وویل چه اي څښتنه
هرهغه سړي‌ته چه تهٔ‌محبت کوي ګوره هغه بیمار دي *
۴ یسوع هغه اوریدلي وئیویل چه دغه بیماري دپاره
دمرګ نده مګر دپاره دثنا دخداي چه دخداي
۵ دزوي لوئي لهغه‌څخه ظاهره شي * مارتالره او دهغې
۶ خور لره‌او لازارلره یسوع محبت وکړ * دپاره ددیه دهغه
دناجوړه کیدو خبر موندلي هغه‌نور دوه ورځي پهغه
۷ ځای‌کښ واوسیده * پس لهغه ده خپلو شاګردانو
۸ وویل چه راځیئ موږ بیا یهودا ملک‌لره ځو * دده
شاګردانو دده‌ته وویل چه اي معلمه لږي ورځي وشوي
چه یهودو تالره کاڼړي ویشتل اراده کړي وو ترو بیا بڅه
۹ ملتکي ځي * یسوع ځواب ورکړ چه ورځ قدر څه دوولس
ګړي نده ځوک چه پهورځ‌کښ ځي ترو هغه نه پریوزي
۱۰ ځلره چه ددیه دنیا روښنائي ویني * لیکن هرهغه ځوک

چه په‌شپه‌کښې ځي ترو هغه پرېوزي ځکه چه پهغه کښې
۱۱ روښنائي نشته دې * هغه دغه خبره وکړه پس لهغه هغو
ته ئې ووېل چه ځمونږه دوست لازار اوده‌دې مګر هغه‌ته
۱۲ وېښولولره ځم * دده شاګردانو ووېل چه اې خاونده
۱۳ چه اوده‌دې ترو جوړ به‌وي * يسوع دهغه دمړګ
په‌حق‌کښې ووېل ليکن هغه وپوهيدل چه دده په‌خوب‌کښې
۱۴ دارام دمونددلو خبره ووېله * پس لهغه هغولره يسوع
صاف ووېل چه لازار مړ شوې دې او زه دپاره دستاسو
خوشحاليږم چه زه هلته‌کي نه‌ووم ځکه چه اديځځه
بدستاسو يقين وشي ليکن اوس مونږه په‌نژد دهغه
۱۵ ورځو * هغه وقت ديدمس په‌تهاسره مشهي لځانه‌سره
۱۶ شاګردانولره ووېل * چه راشئ به‌مونږه هم ځو چه
۱۷ دهغه‌سره مړه شو * يسوع راغلي وپوهيده چه
هغه په‌قبرکښې څلور ورځې او دې شوې دي *
۱۸ بيت‌عنيا داورشليم څنګه وه په‌قدر ديوه کروه فرق *
۱۹ دپاره ددې ډيرو يهودو دهغو دوروړ په‌حق‌کښې دمارتا
۲۰ او دمريم دتسلي دپاره لاړل * مارتا ديسوع دراتلو
اخبر مونددلي لهغه‌سره ملاقات کولولره لاړه ليکن
۲۱ مريم په‌کورکښې کښيناسته * هغه وقت مارتا يسوع‌ته
ووېل چه اې څښتننه‌ته که دلې اوسېدې ترو ځما ورور
۲۲ به‌مړ شوې نه‌وه * ليکن زه پوهيږم چه په‌نژد دخداې
هرهغه څه ته غوارې ترو خداې به‌هغه هم تالره
۲۳ درکاند * يسوع هغه‌ته ووېل چه ستا ورور به‌بيا پاڅي *
۲۴ مارتا هغه‌ته ووېل زه پوهيږم چه په‌ورځ داخرت بيا
۲۵ په‌پاڅيدوکښې هغه به بياپاڅي * يسوع هغه‌ته ووېل چه

زه بیاپاڅدل او ژوندون یم هرهغه څوک که مالره
یقین کوي که هغه مړ شوي وي ترو هم ژوندي به شي *
۲۶ او هرهغه څوک چه ژوندي شوي پما باند یقین کوي
۲۷ هغه به هیڅکله نهږي ته څه دغه یقین کوي * دغې
وویل چه او څښتنه زه یقین کوم چه ته مسیح دخداي
زوي چه پدیه دنیاکښ دهرهغه چه دراتلو ضرور وو *
۲۸ دغې خبره کړي لاړه او خپلي خور مریمي لره په تنهاي
کښ راوبلله ورته وې‌ویل چه څښتن راغلي دي او
۲۹ تالره بلل کوي * هغه اوریدلي زر پاڅدلي په نژد
۳۰ دهغه لاره * یسوع هغه وقت په کلي کښ راغلي نه وه لیکن
هرهغه ځاي چه مارتاسره لهغه یېښه شوي وه پهغه ځاي
۳۱ وه * هرهغه یهودیان چه دمریم سره اوسیدلي دهغې تسلي
کول په کورکښ وو هغو هرکله چه لیدل وکړل چه هغه زر
پاڅدلي بهر لاړه هغه وقت وې‌ویل دهغې ددرسئو ودستو
۳۲ لاره * دغه په قبرباند ژړالره ورځي مریم په نژد دیسوع
رسیدلي او هغه لره لیدلي دهغه په پښو باند پریوتله
او وې‌ویل چه اي خاونده ته اکر دلتکي اوسیدي
۳۳ ترو ځما ورور به نه وه مړشوي * دپاره ددیه یسوع
هغې لره هرهغه یهودیان چه دهغوسره راغلي هغولره هم
ژړیدونکي لیدلي په زړه کښ ئې اسولي وکړ او دلګیر
۳۴ خاطره شوي * وې‌ویل چه هغه لره چرته تاسو ایښي دي
هغو ده لره وویل چه اي څښتنه راشه وې‌کوره یسوع
۳۵ وژړل * هغه وقت یهودیانو وویل چه کوري ده هغه لره
۳۶ څرنګه محبت وکړ * او دهغو ځیني وویل دغه سړي چه
۳۷ دړندو خلقو سترګي جوړه وي * ددیه سړي مرګ که پهغه

۳۸ کښېنه وي هغه څه دغه کولی نشي * دپاره ددیه یسوع
بلهیر پخپل زړه کښ اسولي وکړ پهنژد دقبر راغي هغه
۳۹ یوه کنده او یوغه بانډ پوکانړي * یسوع وویل کانړي
پورته کړیئ دهغه مړه خور مارثا وویل چه اي خاونده
اوس هغه بدبویه شوی دی ځکه چه نن څلور ورځې
۴۰ شوي هغه مړ شوي دي * یسوع هغې ته وویل چه ما څه
تاته ویلي ندي چه که تاسو یقین کوئ ترو دخداي لوئي
۴۱ بهووینئي * هغه وقت دمړه لهاوده کیدو لځایه څخه هغو
کانړي پورته کړ یسوع پورته کتلي وي وویل چه اي پلاره زه
۴۲ تالره حمدکوم چه څما خبره تا اورېدلي ده * زه پوهیدلي یم
چه ته مدام څما خبره اوري لیکن چه نژد ولاړدي دپاره
دهغو ما دغه ویلي دي چه دوي اعتقاد راوړي چه تا
۴۳ زه رالېږلي یم ده * پس لدویلو ددیه خبري پهاو چت سره
۴۴ وویل اواز چه اي لازار بهر راځه * هغه وقت مړ شوي
هرڅه سري چه هغه دقبر لجاموسره لاس ښپي تړلي بو
روماٻ پهمخ باند اچولي بهر راغي یسوع هغوته وویل
۴۵ چه هغه لره پرانزېئ او پرېږدئي * هغه وقت چه ډېر
یهودیان پهنژد دمریمي راغلي وو هغو دیسوع دغه کار
۴۶ لیدلي پهغه باند یقین وکړ * لیکن پهغو کښ څنو څنو
پهنژد دفریسیانو تللي هرهر کار چه یسوع کړي وه هغه ئي
۴۷ ووایه * پس لهغه سردارانو دکاهنانو اوفریسانو جرګه کړه
وي وویل چه موږ څه وکړو ځکه چه دغه سړي ډېر
۴۸ عجیبه کارونه کوي * هغه لره که موږ هیڅه ونکړو
ترو واړه سړي بهپهغه باند یقین کوي او رومیان
سړي راغلي څموږه ملک او خلقولره بهواخلي *

۴۹ قیافا نومانۍ دهغو یو سړي پهغه کال سردار کاهن وه هغه
۵۰ هغوته وویل چه تاسو هیڅه نپوهیږئ * تاسو څه غور
نکوئ چه دغه مونږلره مناسب دي چه یو سړي دخلقو
پهځاي کښې مړ شي او دوطن دوارو سرو هلاکیدل
۵۱ ونشي * او هغه لهخپلهځنځه دغه خبره نده ویلي لیکن
پهغه کال سردار کاهن شوي دغه دنبي خبري ویلي
۵۲ چه دوطن دخلقو پځاي کښې بهیسوع مړشي * او دهغه
ملك دسرو پهځي کښې صرف ندي منکر دخداي چه
۵۳ خواره واره هلکان دي هغولره بهجمعه کاند * اغه وقت
اېغه ورځي څخه هغهلره دوجلو مصلحت هغو یوتربله
۵۴ وکړ * دپاره ددې یسوع بیا ظاهر پهمنځ دیهودیانو
ونکرځیده منکر هغه ځاي پربنودې متصل دځنګل یو
ملك افرام نومانۍ پهیوه ښهرکښې لاړشه او دېسره لهخپلو
۵۵ شاګردانو واوسیده * هغه وقت دیهودیانو فصح نژدې شه
او دهغه اختر پخوا ډیر خلق لهملکځنځه خپلو
۵۶ ځانونولره پاك کولو واورشلیمته لاړل * هغه وقت هغو
دیسوع لټول وکړل او پههیکل کښې ودریدلي یوتر
بلهځېسره وویل چه تاسو څه پوهیږئ چه هغه به
۵۷ پهاخترکښې څه را نشي * ځلږه سردارانو دکاهنانو او
فریسیانو حکم ورکړې وه چه اکر څوك پوهیږي چه
هغه چرته دې هغه بوایې چه دوې دهلره و نسي *

۱۲ دوولسم باب

۱ فصح اخترلره شپږ ورځې پاتې شوې یسوع پهغه
بیتعنیاکښې هرڅه ځاي لازار چه وه کور چه مړ شوې
۲ وه هرڅه هغهلره هغه لهمړکهځنځه پاڅولي * پهغه

ځای‌کښې هغوی دپاره دهغه دشپې خوراک تیار کړ او
مارتا خدمت وکړ منکر لازار دهغې سره په‌خوراک
۳ باندې ناست یو سړی وه * په‌هغه وقت مریم قیمت بها نیم
سیر دناردین تیل اخستې دیسوع په‌پښو باندې
ومښل او له‌خپلو وښتو‌څخه دهغه پښې پاکیزه کړلې
له‌هغه‌څخه دهغو تیلو له‌خوشبوئې‌څخه تمام کور ډک
۴ شه * پس له‌هغه دشمعان زوی یهودا اسخریوطی تک دهغه
۵ یو سړی شاګرد ووېل * چه‌ځلره دغه تیل په‌دریو سوو
پایلو خرڅ نکړې شول او فقیرانو لره ورنکړې شول *
۶ دمحتاجو خلقو په‌حق‌کښې هغه هر فکر کړې دغه خبره
وکړه هغه نه وه منکر دپاره ددې هغه غل وه او خلته بیا
موندلې دهغو په‌منځ‌کښې هرڅیز هغه پورته کړې *
۷ پس له‌هغې یسوع ووېل چه هغه‌لره پرېږدئې ځما
په‌قبر‌کښې دورځې دپاره ورکولو هغه دغه ساتلې
۸ دې * ځلره چه فقیران همېشه دستاسو سره دی
۹ منکر زه همېشه دستاسره نیم * دپاره ددې ډیر
یهودیان پوهېدلې هغه ځای راغلل خالې دپاره
دیسوع دلیدلو دغه نه وو لیکن لازار لره هم دپاره دلیدو
۱۰ راغلل هرهغه‌لره چه هغه له‌مرګه پورته کړې وه * منکر
سردارانو دکاهنانو لازار لره هم دخون کولو مصلحت
۱۱ وکړ * ځلره چه له‌هغه‌څخه ډیرو یهودیانو تللې په‌یسوع
۱۲ باندې یقین وکړ * بله ورځ دپاره په‌اختر‌کښې راغلې ډیرو
خلقو هرکله چه په‌اورشلیم‌کښې دیسوع دراتلو خبر
۱۳ اورېدلې وه * هغه وقت دکجورو دونو ځانګه اخستې
دوی دهغه سره ملاقات کولو لره بهر لاړل او په‌تلو

ارازسوه ئې وویل چه هوشانه داسرائیلو بادشاه مبارک دی چه
۱۴ دخدای پهنامهسره راځي * پس لهغه یسوع یوه څوانه
خره موندلي پهغه باندسورشه دارنګ لکه دغه لیکلي
۱۵ دي * چه ای دصیون لورې ته مه ویریږه ګوره ستا بادشاه
۱۶ دخرې پهبچړی باند سوور شوي راځي * دغه خبره
دهغه شاګردانو ورنبې نه وه معلومه کړی لیکن هرکله
چه دیسوع لویي ظاهره شوه هغهوقت هغو یاده کړه چه
دغه واره دهغه پهحق کښ لیکلي شوي او چه هغو
۱۷ هغهلره دغه واره کړي وو * دپاره ددیه هرکله چه
هغه لازارلره لهقبرهڅخه راوباله او هغهلره لهمرګه
څخه پورته کړ هغهوقت ګڼهغه تولي چه پهنژد
۱۸ دهغه وه هغو شاهدي ورکړه * دپاره ددیه تولي
دهغهسره ملاقات کولولره لاړل څلره چه هغو واوریدل
۱۹ چه هغه دغه عجیبه کارکړي وه * دپاره ددیه
فریسیانو یوتربلهسره وویل چه تاسو څه نه ګوریږي
چه دتاسو هیڅ فایده نشته دي ګوروني واره سړي
۲۰ پطرف دهغه شوي دي * هرهغه چه پهاخترکښ دپاره
دبندګي کولو راغلل دهغو پهمنځ کښ څو یونانیان وه
۲۱ دپاره ددیه هغو پهنژد دجلیل دبیتصیدا فیلپس راغلي
هغهلره پوښتنه کړي ويوویل چه ای خاونده موږ
۲۲ یسوع لره لیدل غواړو * فیلپس راغلي اندراوس‌ته وویل پس
۲۳ لهغه اندراوس او فیلپس یسوع ته وویل * هغه وقت یسوع
هغوته ځواب ورکړی ويوویل چه دسړي دزوي دلویي
۲۴ دظاهریدلو وقت راغلي دي * زه تاسوته رښتیا رښتیا

وايم چه يوه دانه غنم پخاوروکښ پرېوتې بې له مړه کيدو
يوازې پاتې کيږي مګر که مړ شي نو ډېره ميوه
۲۵ رسيږي * هر هغه څوک چه خپل ځان لره محبت کوي
هغه به هغه ورکهوي او هر هغه څوک چه پدې دنياکښ خپله
ځان لره کينه کوي هغه به ترنهايته عمر پوري هغه ساتي *
۲۶ هر هغه څوک چه ځما خدمت کوي نو هغه ديا
پسې راشي او هرځاي چه زه اوسم هلتکې به ځما
نوکران هم اوسي هر هغه سړي چه ځما خدمت
۲۷ کوي نو ځما پلار به هغه تعظيم کوي * اوس
ځما زړه بېقراره دي او زه به څه وايم چه اي پلاره
ما لره لدې ګړي خلاص کړه ليکن دپاره ددې زه
۲۸ تردې وخته پوري راغلي يم * اي پلاره ته دخپل نام لوئي
وکړه هغه وخت له اسمانه څخه يو اواز وشه چه ما هغه
۲۹ لوئي کړي ده او بيا هم به هغه لوئي کوم * دپاره ددې
هر هغو چه نژدې ولاړ شوي هغه وا وريدل هغو وويل چه
تندرېخي اواز شوي دي نورو نورو سړو وويل چه
۳۰ دهغه سره يوه فرښته خبري کوي * يسوع ځواب ورکړي
وي وويل چه دغه اواز ځما دپاره ندي شوي مګر
۳۱ دپاره دستاسو * اوس ددې جهان انصاف کيږي اوس
۳۲ ددې جهان بادشاه بهر غورزولي شي * او زه که لزمکې
څخه پاڅولي شم نو وارو سړو لره به پڅان دخپل
۳۳ ځان راکاږم * اوس دهرشان لمرګ څخه به مري
۳۴ دغه پوهه کولو لره هغه دغه خبري وکړي * خلقو هغه لره
ځواب ورکړ چه مونږ په کتاب کښ اوريدلي دي چه
مسيح هميشه اوسي دپاره ددې چه ته څرنګه وايې چه

دسړي زوي لره به پاڅول وشي دغه دسړي زوي څوک
۳۵ دي * يسوع هغوته وويل چه تورلږه موده روښنائي
دستاسو سره اوسي هرڅو موده روښنائي دستاسو سره اوسي
هغه قدر موده ورځي ځئ نو چه تياره تاسو لاند
کاند هرڅوک سړی چه په تياره کښ ځي هغه سړی
۳۶ نه پوهيږي چه دي چرته ځي * ترهغه پور چه روښنائي
اوسي تو هغه وقته پور په روښنائي کښ يقين کوئي چه تاسو
دروښنائي هلکان شئ يسوع دغه خبره وکړه لاړ شه
۳۷ او له هغوڅخه ئي ځان خپل پټ کړ * هغه دهغو
ډېر عجيبه کارونه دهغو دوړاند کړي وو درست تر و هم
۳۸ هغو په هغه باند يقين ونکړ * چه داشعيا نبي هرهغه خبره
چه کړي وه چه اي پروره څوک تره په خبر باند چا يقين
کړي دي * او دخداي لاس په نزد دچا ظاهر شوي دي هغه
۳۹ خبره پوره شوه * دپاره ددي دوي يقين نشه کولي ځکه
چه اشعيا بل هم ويلي وو چه هغه دهغو سترګي ړندي
۴۰ کړي دي او دهغو زړه سخت کړي دي چه دوي له سترګو
څخه ونويني او په زړه کښ نپوهيږي او زړه نکړزوي او
۴۱ زه هغو لره ارام ونکړم * اشعيا هرکله چه دهغه لوئي
وليده او دهغه په حق کښ ئي وويل هغه وقت ئي دغه خبره
۴۲ وکړه * ليکن په سردارانو کښ ډېرو سړو په هغه باند
يقين وکړ مګر دفريسيانو له ويري څخه هغه لره ئي قبول
نکړ چه هسي نوي چه له سيناګاګ څخه لري کړي شو *
۴۳ ځکه چه هغو دخداي له صفت څخه دسړي صفت
۴۴ وخوښت * يسوع په اواز سره وويل هرهغه څوک چه
ما لره يقين کوي هغه ما لره يقين نکوي ليکن لره

هغه چه زه رالیږلي یم هغه لره هم یقین کوي *
٤٥ او هر هغه سړي چه ما لره ویني هغه ځما رالیږونکي
٤٦ هم ویني * په دنیا کښ زه یو روښنائي راغلي یم هر هغه
سړي چه په ما یقین کوي هغه به تیاره کښ پاتي نشي *
٤٧ هر هغه څوک چه ځما خبره اوریدلي یقین نکوي
ترو زه هغه لره تجویز نکوم ځکه چه زه د جهان
دانصاف کولو دپاره نیم راغلي مګر جهان لره
٤٨ دخلاصولو دپاره راغلي یم * هر هغه څوک چه ما لره
ناڅیزه کړي ګنړي او ځما خبره نه اخلي دهغه تجویز
کوونکي یو سړي دي هر هغه خبره چه ما کړي ده
هغه خبره په ورځ دآخرت دهغې انصاف به کوي *
٤٩ ځکه چه زه له خپله ځانه نه وایم لیکن پلار چه هغه
زه رالیږلي یم چه هغه ما لره حکم راکړي دي هر هغه چه
٥٠ ویلو لره او ویلو لره ضرور دي * زه پوهیږم چه دهغه
حکم بي نهایته ژوندون دي دپاره ددیه هر هغه چه
زه وایم ترو دارنګ لکه چه پلار ما لره ویلي دي
دارنګ وایم *

## ١٣ دیارلسم باب

١ دفصح اختر ورنبي دارنګ و څول یسوع وپوهیده
چه خپل وقت نژدې دي چه په هغه کښ به دغه جهان
پریښودي په نزد دپلار به ځي ددنیا اوسیدونکیو
خپلو خلقو لره محبت کړي تر آخره پوري هم محبت
٢ کړي دي * دشپې له خوراک له تمامیدو هغه لره
له نکي ځکه قبض کولو لره دشمعان زوي یهودا اسخریوطي
په زړه کښ شیطان له ورکولو پس پلار دهغه پلاس کښ

۳ واړه سپارلي دې او دې لهٔ خدایه راغلي دې * او
پهٔ طرف دخدای بیائي یسوع هغهٔ معلوم کړې *
۴ دشپې لهٔ خوړاکه پاڅېده او جامې برانتې رومال پهٔ ملا باندې
۵ تړلي * پهٔ لوښي کښې اوبهٔ توې کړې دشاګردانو پښو
وینځلو او لهٔ هغه رومال څخه چه خپله ملا تړلې
۶ لهٔ هغه څخه پاکېزه کولو لګېده * پس لهٔ هغه پهٔ نزد
دسیمان پطرس راغي او پطرس هغهٔ ته ووېل چه اې
۷ څښتنه ته به څهٔ ځما پښې وینځې * یسوع ځواب ورکړې
هغهٔ ته ئې ووېل چه زهٔ هر څهٔ چه کوم ته هغه لااوس نهٔ پوهېږې
۸ لیکن اخر به وپوهېږې * پطرس هغهٔ ته ووېل چه ځما
پښې به وینځلو هیڅکله درنکړم یسوع هغهٔ ته ځواب
ورکړ چه که تا لره زهٔ ونه وینځم تره ځما سره ستا
۹ حصه هیڅ نشته دي * سیمان پطرس هغهٔ ته ووېل چه
اې خاونده صرف ځما پښې ندې منګر ځما لاس
۱۰ او ځما سرهم * یسوع هغهٔ ته ووېل هر څوک چه لمبل
شوي دي هغهٔ بي له پښو لهٔ وینځلو ضرور ندي منګر
واړه بدن صاف دي تاسو هم صاف یئ منګر واړه ندي *
۱۱ هغهٔ وپوهېده هغهٔ څوک دي چه هغهٔ لره لهٔ لاسه څخه
پهٔ ورقبض کړي ګاند دپاره ددې ئې ووېل چه دتاسو واړه
۱۲ صاف نئ * هغهٔ دهغوی پښې وینځلي او جامې اخستې
او بیا هیر کښېناستې هغوی ته ووېل تاسو څهٔ پوهېږئ
۱۳ چه ما تاسو لره هر څهٔ چه کړي دي * تاسو ما لره معلم او
څښتن وایئ او تاسو ښهٔ وایئ ځکه چه زهٔ هغهٔ یم *
۱۴ دپاره ددې زهٔ دستاسو معلم او خاوند که دستاسو پښې
وینځلي دي تره تاسو لره هم پکار دي پښې وینځل مناسب

۱۵ دي * ځکه چه ما تاسولره نمونه درکړي ده چه دارنګ
لکه چه ما تاسولره کړي دي تاسو هم دارنګ کوئي *
۱۶ رښتيا رښتيا زه تاسوته وايم چه مزدور له خاوند ځخه لوي
ندي او هرڅوک سړي چه رالېږلي شوي دي هغه سړي
۱۷ له رالېږونکي ځخه لوي ندي * تاسو که دغه پوهيږئي
۱۸ ترو هغه کړئي مبارک يئي * دستاسو دوارو پحق کښي
زه نه وايم چه هغو چالره چه ما پسند کړي دي
زه پېژنم ليکن دپاره دپوره کېدلو دکتابونو هرڅه سړي
چه ځما سره روټي خوري هغه ځما په خلاف کښي پونده
۱۹ پورته کړي ده * اوس له ظاهرېدو وړاند زه تاسوته
وايم چه هس له تپاميدو دکار پتاسو يقين وکړئي
۲۰ چه زه هغه يم * رښتيا رښتيا زه تاسوته وايم چه
ځما درسولانو دچا ري هرڅوک سړي چه ملېستيه
کوي هغه مالره ملېستيه کوي او هرڅوک ځوک چه
مالره ملېستيه کوي هرڅوک چه زه رالېږلي يم هغه لره
۲۱ يم هغه ملېستيه کوي * يسوع دغه خبره وبلي
په زړه کښي دردمند شه او شاهدي ورکړي وېويل چه
رښتيا رښتيا زه تاسوته وايم چه دستاسو په منځ کښي
۲۲ يو سړي مالره په دپردو په قبض کښي کاند * لديه سببه
هغه دچا پحق کښي دغه خبره وکړه په ديه کښي وسواسېدله
۲۳ شوي شاګردانو يو تر بل سره وکتل * هغه ديسوع
يو سړي شاګرد هرڅه لره چه هغه محبت وکړ په هغه
وقت پدارخ شوي دهغه په سينه باند اوسيدلي وه *
۲۴ هغه وقت دچا پحق کښي يغه ويلي دو چه دغه دپاره
۲۵ دپوښتني سمعان پطرس هغه ته اشارت وکړ * دپاره

ددٻه هغه سري دیسوع په سینه باندې لوده شوی هغه ته
۲۶ وویل چه اې خاوندهٔ هغه څوک * یسوع ځواب ورکړ
چه زه به ګوله لونده کړي هرڅهٔ ته چه ورکړم
هغه دی پس لهغه دهغه لونده کړي دسمعان زوي یهودا
۲۷ اسخریوطي لره هغه ورکړه * پس لهٔخوراکه دلوندې ګوله کړي
شیطان په هغه کښ ننوت پس لهغه یسوع هغه ته وویل
۲۸ هرڅه چه کولولره ځواري هغه زر وکړه * چه په خوراک
ناست وو په هغوکښ څوک ونه پوهېده چه هغه دغه دپاره
۲۹ دغه خبره وکړه * څنو څنو اټکل وکړ چه پهٔ زړهٔ دیهودا
خلطه لهساتلو څخه یسوع هغه ته ویلي وه چه داختر
دپاره هرڅه چه مونږ ځواږو هغه په پېسه واخلېي یا
۳۰ محتاجولره څه ورکړه * پس لهغه هغه اونده ګوله
۳۱ بیامونددلي زر بهر لاړشه او شپه شوه * پس بهر لهتلو
دهغه یسوع وویل چه اوس دسړي زوي لوئي ظاهره
شوله او په هغه منځکښ دخداي هم لوئي ظاهره شوله *
۳۲ دخداي لوئي که په هغه کښ ظاهره شوله نو پښتان
خیل کښ بهخداي دهغه لوئي ظاهره کاند او هم هغه وقت
۳۳ دهغه لوئي به هم ظاهره کاند * اې ورو هلکانو دستاسو
سره پهٔ نور زه لږي ورځي اوسم تاسو به مالره لټوئي
او دارنګ لکه چه ما یهود انولره ویلي وو چه هرچرته
چه زه ځم تاسو هلتکي راتللي نشئي دارنګ تاسوته هم
۳۴ وایم * اوس نوي یو حکم زه تاسولره درکوم یو تر بله سره
محبت کوئي دارنګ لکه چه ما تاسولره محبت کړي دي
۳۵ دارنګ تاسو یو سړي بل یو ه سړي لره محبت کوئي * که
تاسو یو تر بله محبت کوئي له دې څخه به هر څوک پوهېږي

٣٦ چه تاسو څما شاګردان يئ * شمعون پطرس ده ته
وويل چه اي څاونده ته به چرته ځي يسوع هغه ته ځواب
ورکړ چه زه هر چرته چه ځم هلتکي ته به اوس څما سره
٣٧ لاړ نشي ليکن پس لدېنه به پسي راځي * پطرس هغه ته
وويل چه اي څښتنه ستاسره به اوس ځله نشم تللي دپاره
٣٨ دستا به زه خپل ځان لره ورکړم * يسوع ځواب ورکړ چه
ته به څه دپاره څما خپل ځان ورکړي رښتيا رښتيا زه تاته
وايم چه ته مالره پېژني بې لدېنه چه دغه ته درې
هيري منکر نشي چرګه به بانګ ونه وايي *

## ١٤ څوارلسم باب

١ لا زړه څخه بې قراره مه شئ تاسو په خداي باندي يقين کوئ
٢ پما باندې هم يقين کوئ * څما دپلار په کوريکښي ډير
کوروني دي دغه اکر نه وي ترو ما به تاسو ته ويل دپاره
٣ دستاسو ځاي تياره ولواره زه ځم * او اکر زه تللي
دپاره دستاسو ځاي تيار کړم ترو بل ځل به راغلي زه
به تاسو لره په نژد دڅان خپل واخلم چه زه هر ځاي اوسم
٤ تاسو هم هلتکي اوسيئ * زه هر چرته چه ځم هغه تاسو
٥ پوهيږئ هغه لار هم تاسو پيژنئ * توماس ده ته وويل
چه اي څښتنه ته هر چرته چه ځي مونږه دغه
٦ نه پوهيږو دپاره ددېنه به څرنګه لار ويېژنو * يسوع
هغه ته وويل چه زه لار او صدق او ژوندون يم
هيڅوک سړي بې لما له اشنائي په نژد دپلار نځي *
٧ تاسو که زه پيژندي ترو څما پلار لره به هم تاسو پيژاند
لدېنه وروسته څخه تم تاسو هغه لره پيژنئ او تاسو هغه لره
٨ ليدلي دي * پيلپس هغه لره وويل چه اي څښتنه مونږه لره

۹ پلارلره راوښیه پهغه‌کښ به‌موږلره خوشحاله شو * یسوع
هغه‌ته ووېل چه اي پیلپس زه دومونهره ورځي ستاسره
واوسیدم ترو هم څه تازه پېژندلي نیم هغه چا چه
زه لیدلي‌یم هغه پلارلره لیدلي دي لدېځه سبه ته
۱۰ څرنګه والیې چه موږلره پلارلره راوښیه * ته څه
یقین نکوې چه زه په‌پلارکښ یم او پلار په‌ماکښ دي
هره خبره چه زه تاسوته وایم هغه خبره زه له‌ځپله
ځانه نه وایم لیکن په‌ماکښ اوسیدونکي پلار دغه کار
۱۱ کوي * مالره یقین کوه چه زه په‌پلارکښ یم او پلار په‌ماکښ
دي لیکن اګر ندي ترو هم هغه کار لیدلي مالره یقین
۱۲ کوئي * زه تاسوته رښتیا رښتیا وایم چه هرهغه څوک
چه په‌ما باند یقین کوي هرهغه کار چه زه کوم ترو
هغه هم کوي لدېځڅه لوي کار هم هغه کوي ځلره
۱۳ چه زه په‌نږد دپلار ځپل ځم * تاسو څه‌ما په‌نامه‌سره هرڅه
چه غواړئي زه به‌هغه کوم چه دپلار لوئي په‌زوي‌کښ
۱۴ ظاهره شي * څه‌ما په‌نامه‌سره چه تاسو څه غواړئي ترو
۱۵ زه به‌هغه کوم * تاسو که مالره محبت کوئي ترو څه‌ما
۱۶ حکم منئي * او هم به‌زه په‌نږد دپلار دعا کوم او هغه
به‌بل یو تسلي کوونکي تاسولره درکاند چه هغه
۱۷ دستاسوسره همیشه‌اوسي * دصدق روح هغه دي چه هغه‌لره
جهان اخستي نشي ځلره چه هغدا‌ره هغه نه‌ګوري
او نه‌پیژني منګر تاسو هغه‌لره پېژنئي ځلره چه هغه
۱۸ دستاسوسره اوسي او په‌تاسوکښ به‌هم وي * زه به‌تاسولره
۱۹ یتیمان نپریږدم زه به‌دتاسو په‌نږد راځم * او لږي ورځي

به‌جهان ما لره نور نه ويني ليکن تاسو به‌ما لره وينئ
۲۰ زه ژوندي يم لهٔغه سببه به‌تاسو هم ژوندي شئ * هغه
ورځ به‌تاسو وپوهيږئ چه زه په‌پلارکښ يم او تاسو
۲۱ په‌ما کښ يئ او زه په‌تاسو کښ يم * هرڅوک چه زما حکم
مونده‌لي ساتل کوي هغه ما لره مينه کوي او هرڅوک
چه ما لره محبت کوي هغه‌لره به‌زما له‌پلار څخه محبت
وي او زه به‌هغه‌لره محبت کوم او به‌ځان ده‌غه به‌ځپل
۲۲ ځان لره ظاهر کړم * يي له‌اسخريوطي بل يهودا ده‌ته وويل
چه اي څښتنه دغه څرنګه خبره ده چه پخپل ځو ځپله
ځان ځپل لره ظاهر کاند منکر په‌ځان د جهان نه وي *
۲۳ يسوع ځواب ورکړي هغه‌ته‌ئي وويل که هرڅوک
چه ما لره محبت کوي نو زما خبره به‌مني او زما
پلار به‌هغه‌لره محبت کوي او مونږ به‌ځان ده‌غه
۲۴ راغلي ده‌هغه‌سره به‌اوسو * هرڅوک سړي چه ما لره
محبت نکوي هغه زما خبره نمني او هره خبره
چه تاسو اوريئ هغه زما نده منکر د پلار چه هغه
۲۵ زه راليږلي يم * زه دستاسوسره اوسيدلي هغه خبره
۲۶ تاسوته کړي ده * ليکن تسلي کوونکي يعني روح
القدس چه هغه‌لره به‌پلار زما په‌نامه‌سره درولیږي هغه
به‌تاسولره واړه درو ښيي او ما هر هرڅه چه ويلي ده
۲۷ هغه به‌هم واړه تاسولره در ياد کاند * په‌ځان دستاسو زه
ځپله سلامتي پښودي ځم زه ځپله سلامتي تاسولره درکوم
داړنګه لکه چه ددنيا خلق ورکوي داړنګ زه تاسولره
نه‌درکوم دستاسو زړه لرزيدونکي نشي او ودنه‌ويږيږي *
۲۸ تاسو اوريدلي دي چه ما تاسوته ويلي دي چه زه

هم بیا پرځړد دستاسو به‌پلاه‌ېر راشم که تاسو مالره
محبت کولی ترو زه پره‌ژړد دپلار هم ځما پدیه
خبره باند بهتاسو خوشحالدېي ځلره چه لهماځخه
۲۹ لوی ځما پلار دی * دهغو له‌ټپامېدو پخوا ما دغه
وارة تاسولره ویلی دی چه پورااتلو ونکی وقتکښ
۳۰ تاسو هغه یقین کړای * بس لدیه به‌دستاسوسره زه نوری
ډیری خبری نکوم ځلره چه ددیه جهان بادشاه راځی
۳۱ او پماکښ دهغه هیڅه نشته دی * لیکن دجهان
اوسیدونکی خلق وګڼری چه زه پلارلره محبت کوم او
پلار مالره دارنګ لکه چه حکم کړی دی زه دارنګ
کوم پاڅېږی موتږه ځو *

## ۱۵ پینځه‌لسم باب

۱ زه رښتیا دانګورو ونه یم او ځما پلار کښت کوونکی
۲ دی * ځما چه هره یوه څانګه میوه نه‌نسی هغه څانګه
هغه‌لری کوی او هره هغه یوه څانګه چه میوه نسی دهغی
۳ دپاره دمیوی نیوو زیاتی هغه صاف کوی * اوس هره
خبره چه ما تاسولره کړی ده لهغی خبری‌څخه تاسو پاک
۴ شوی‌یی * تاسو پماکښ اوسیږی او زه پتاسوکښ
دارنګ لکه چه انګور په‌ونه‌کښ نه‌وی څانګه پخپله میوه
نیولی نشی دارنګ په‌ماکښ بی له‌اوسیدو به‌تاسو میوه
۵ ونشی نیوی * زه دانګورو ونه یم تاسو څانګه یاستی
هرڅوک چه پماکښ اوسی او زه پهغه‌کښ ترو هغه
ډیره میوه نسی ځلره چه بی‌لهما تاسو هیڅه نه‌شی
۶ کولی * که‌څوک سری چه پماکښ نه اوسی دڅانګی پشان
غورزولی شی او وچ هم شی او سړی هغولره یوځای کړی

۷ په انګور کښی نه ځړېږی او دوی وسوځی * که تاسو په ما کښی اوسېږئ
او زما خبری په تاسو کښی اوسی نو دستاسو هر څه چه
اراده وي هغه له ما غواړئ نو له پاره دستاسو به هغه کول
۸ کېږی * دستاسو له دېرو مېوو نیولو څخه زما د پلار
لوئی ظاهرېږی تاسو به دا رنګ زما شاګردان یئ *
۹ دا رنګ لکه چه پلار ما لره محبت کړی دی دا رنګ
ما تاسو لره محبت کړی دی زما په محبت کښی اوسېږئ *
۱۰ زما حکم که تاسو منئ نو زما په محبت کښی
به اوسېږئ دا رنګ لکه چه زه د پلار خپل حکم منلی دی هغه
۱۱ په محبت کښی اوسم * ما دغه خبری تاسو ته کړی دی
چه دستاسو په منځ کښی زما خوشحالی اوسی دستاسو
۱۲ خوشحالی پوره شی * دغه زما حکم دی چه دا رنګه
لکه چه ما تاسو لره محبت کړی دی دا رنګ تاسو
۱۳ سره له یو بله محبت کوئ * د پاره د خپل دوست له خپل
۱۴ ځان ورکولو څخه لوی د دېنه محبت نشته دی * زه
تاسو لره هر څه حکم چه درکوم که کولو څخه هغه تاسو
۱۵ زما دوستان یئ * بس له دې نه زه به تاسو ته مریی نه وایم
څلره چه څښتن ئی کار چه کوی مریی هغه نه پېژنی
منګر ما تاسو لره دوستان ویلی دی څلره چه په دې زما
د پلار ما هر څه چه اورېدلی دی هغه وایه تاسو لره
۱۶ در معلوم کړل * تاسو زه غوره نکړم منګر ما تاسو لره غوره
کړه یئ او تاسو لره هم مقرر کړی دی چه تاسو تللی
مېوی ونیسئ او دتاسو مېوه پاتې شی چه په ژوند
د پلار زما په نامه څه چه تاسو غواړئ هغه چه غواړئ نو
۱۷ هغه به تاسو لره درکاند * زه تاسو لره دغه حکم درکوم چه

۱۸ يو تر بله سره محبت کوئ * که دنيا تاسو ته حسد کوي تر و
تاسو وپوهيږئ چه تاسو له کيني کولو دړنبي ما لره ئي
۱۹ کينه کړي ده * که تاسو د دې جهان خلق وئ تر و جهان
به خپلو خلقو لره محبت کاوه تاسو د دې جهان خلق نه ئي
ليکن له جهانه څخه ما تاسو لره غوره کړي يئ د پاره
۲۰ د دې جهان تاسو لره کينه کوي * هغه خبره چه ما
تاسو لره ويلي ده هغه ياد لرئ چه مريي له خاونده لوی
نه دی دوی اکر زما مخالفت کوي تر و د تاسو
مخالفت به کوي که دوي زما خبره مني تر و
۲۱ د تاسو خبره به هم مني * ليکن دغه به واړه د پاره د نامه
زما دوی به تاسو لره وکاند ځکه چه هغه چه
۲۲ زه راليږلي يم هغه لره دوی نه پيژني * که زه نه راتلی او
هغوته نه ويله تر و د هغو کناه نه وه منکر اوس د هغو
۲۳ د کناه عذر نشته دی * هر څوک سړی چه ما لره کينه
۲۴ کوي هغه زما پلار لره هم کينه کوي * که ره هغه کار چه
بل هيڅه سړي کړي ندي هغه کار که ما په هغوکښي
نکولي تر و د هغو کناه به نه وه * ليکن اوس ما لره او
۲۵ زما پلار لره هغو ليدلي دي او کينه کړي دي * ليکن
هغو بې سببه ما لره کينه کړي ده د هغو په کتاب کښي
ليکلي شوي دغه خبره د پاره د پوره کيدلو د هغه
۲۶ راغي * تسلي کوونکي چه هر کله راشه له پلاره څخه به زه
د تاسو به نزه درو ليږم يعني له پلاره څخه وتلي د صدق
روح هغه راغلی زما په حق کښي به شاهدي درکاند *
۲۷ تاسو هم له ورنبيه زما سره اوسيدلي د پاره د دغه تاسو
هم شاهدي درکړئ *

## ۱۶ شپاړسم باب

۱ ما دغه خبرې تاسو ته ووېلې چه تاسو مه لغزېږئ *
۲ دوی به تاسو لهٔ سيناګګه څخه لرې کاند او هم
دارنګ وقت راځي چه څوک به تاسو لره وژلي هم
۳ وبه ګڼېږي چه دخداي خدمت کوي * دوی به دغه وارهٔ
تاسو لره کوي ځکه چه دوی پلار لره يا ما لره
۴ نه پيژني * ليکن ما دغه وارهٔ تاسو لره ويلي دي چه له راتلو
دهغه وقته څخه تاسو به ياد کړئ چه ما دغه خبرې
تاسو لره کړي دي ما ورنبې دغه خبرې تاسو لره نه کړې
۵ ځکه چه زه دستاسو سره وم * ليکن اوس هغه چه زه
راليږلي يم په نزد دهغه زه ځم او په تاسو کښې هيڅوک
۶ ما لره پوښتنه نکوي چه ته چرته ځې * ليکن تاسو لره
ځکه لدې خبرې کولو څخه دستاسو زړه له درده څخه ډک
۷ شه * ليکن زه رښتيا خبرې تاسو ته وايم ځما له تللو بلکه
دستاسو دپاره ضرور دي ځکه چه زه که نه ځم تر
تسلي کوونکي به په نزد دستاسو رانشي ليکن زه تللي
۸ هغه لره به په نزد دستاسو درولېږم * او هغه راغلي جهان لره
به دګناه او دصدق او دانصاف په حق کښې الزام ورکاند *
۹ دګناه په حق کښې ځکه چه دوی په ما باند يقين نکوي *
۱۰ دصدق په حق کښې ځکه چه په نزد دپلار خپل ځم او
۱۱ تاسو ما لره به باهېر ليدل بيا نه وينئ * دانصاف
په حق کښې ځکه چه ددې جهان پادشاه انصاف کيدي
۱۲ شي * تاسو لره ما لره نوره ډېرې خبرې کړونکي دي
۱۳ ليکن هغه به تاسو اوس ونشئ زغملي * منکر هغه يعني
دصدق روح راغلي به تو له راستي کښې به تاسو لره لار

ډرښکاره کاند ځلوه چه له ځپله ځانه څخه نه وايي ليکن
هغه هرڅه چه اوريي ترو به وايي او شوونکي څيزونه
۱۴ به تاسولره ډرښکاره کاند * هغه به ځما لوئيي ظاهره کاند
ځلوه چه ځما له هرڅه چه دي هغه هغه اخستي تاسولره
۱۵ به ډرښکاره کاند * دپلار هر هرڅه چه دي هغه واړه ځما
دي دپاره ددیه ما وويل چه هغه ځما له هرڅه چه دي
۱۶ هغه اخستي تاسولره به ډرښکاره کاند * لږي ورځي پس
به تاسو مالره ليدل بيا نه ومينئ بيا له لږي مودې پس به تاسو
۱۷ مالره ليدل بيا ومينئ ځلوه چه زه په نږد پلار ځم * هغه
وقت ددو ځو شاګردانو يو تربله سره وويل دغه څه دي موږ ته
چه هغه وايي لږه موده پس به تاسو مالره ليدل بيا نه ومينئ
لږه موده پس به مالره ليدل بيا ومينئ ځلوه چه زه به نږد
۱۸ دپلار ځم * دپاره ددیه هغو وويل چه لږه موده دغه
څه ده هرڅه چه ګوي هغه څه دغه خبره چه نه هغه وايي
۱۹ هغه مونږه نه پوهيږو * يسوع وپوهيده چه هغو له ده څخه
پوښتنه غوښته دپاره ددیه يې هغو ته وويل چه ما هرڅه
خبره چه کړي ده چه لږه موده پس به تاسو مالره
ليدل نه ومينئ بيا لږه موده پس به مالره ووينئ دديه
۲۰ مطلب تاسو څه يوتربله پوښتنه ګوئي * زه رښتيا رښتيا
تاسو ته وايم چه تاسو به ژاړئ او ځي به کوئ ليکن
جهان به خوشحاله شي تاسو به غم ژاړ شئ مګر
۲۱ دتاسو درد به په خوشحالي کښ وګرځي شي * په وقت
دلنګيدو نېڅه دردمنده شوي حو چه بيا مومي ځلوه چه
ده ځي دلنګيدو وقت ورالد راغلي دي ليکن هلک پس
له زيږيدو نه دي فرزند په دنيا کښ له لنګيدو له خوشحالي څخه

۲۲ هغه تصديع نور نه پاته کيږي * دارنګ د تاسو هم درد اوس
کيږي منکر زه به تاسولره بيا کورم له هغه څخه به د تاسو
زړه خوشحاله شي او هيڅوک به د تاسو خوشحالي
۲۳ يو نه سي * هغه ورځ به تاسو په نزد د ځما هيڅه دعا
نکوئي رښتيا رښتيا زه تاسو ته وايم چه ځما په نامه سره
تاسو هر هر څه چه په نزد د پلار غواړئي هغه به هغه
۲۴ تاسولره درکانه * تر اوسه پوري ځما په نامه سره تاسو
هيڅه غوښتلي ندي غواړئي او تاسو به بيامومئي
۲۵ چه د تاسو خوشحالي پوره شي * له مثله څخه ما دغه
داره تاسو ته ويلي دي ليکن هغه وقت راځي چه زه
نور مثلونه و تاسو ته ندکي ونه وايم ليکن تاسولره
۲۶ به د پلار مطلب صاف درونيم * هغه ورځ به تاسو ځما
په نامه سره دعا کوئي او زه تاسو ته نه وايم چه زه به
۲۷ د تاسو په حق کښ په نزد د پلار دعا کوم * ځکه چه پلار
په خپله تاسولره محبت کوي ځکه چه تاسو مالره
محبت کړي دي او يقين کړي دي چه زه له خدايه څخه
۲۸ راغلي يم * زه د پلاره څخه وتلي په جهان کښ راغلم
۲۹ بيا دنيا پريښودي زه په نزد د پلار ځم * د هغه شاګردانو
ووېل چه ګوره ته اوس صاف خبره کوي او مثل
۳۰ نه وايي * اوس مونږه تحقيق پوهيږو چه ته واړه
ګاروئولره عالم يئي او تالره پکار ندي چه څوک تالره
پوښتي مونږه په دې کښ يقين کوو چه ته له خدايه څخه
۳۱ راغلي يئي * يسوع ځواب ورکړ چه تاسو څه اوس يقين
۳۲ کوئي * ګوريئي وقت راځي اوس هم شوي دي چه
په هغه کښ تاسو هريو سړي په خپل خپل ځاي کښ

پواره څواره واره شيئي او ما لره پهتاسو ورانځي
پوهنوڅي ليکن زه پوانځي نيم څلره چه پلار څهاسره
۳۳ دي * ما دغه خبره تاسو لره ويلي ده چه تاسو پهاکښ
سلامتي پيامومئي په جهان کښ به تاسو لره دردونه منکر
ځا ارجهعه اري ما جهان لره فتحه کري دي *

## ۱۷ اوولسم باب

۱ يسوع دغه خبره ويلي په طرف د اسمان ئي نظر
۲ وکړ او وي ويل چه اي پلاره هغه وقت شوي دی * تا
خپل زوي لره هر څو سري چه وركړي دي هغو واړو
څخه لره دبي نهايته ژوندانه دوركولو دپاره پخوارو څان
درلونکي باند هر قدرت چه هغه لره وركړي دي موافق
دهغي دخپل زوي لوئي ظاهره كره چه دستا زوي ستا
۳ لوئي ظاهره كاند * او دغه بي نهايته ژوندون چه هغه
رښتيا لانئي خداي تا لره او يسوع مسيح لره هم وپيژني
۴ چه هر هغه لره چه تا راليږلي دي * ما په دنيا کښ ستا لوئي
ظاهره کري ده هر هغه كار چه تا ما لره كولو لره راکري دي
۵ هغه ما پوره كري دي * اي پلاره ورزبي له جهانه څخه
ستاسره څما هر هغه لوئي چه وه له هغي لوئي څخه اوس
۶ له څانه خپل اسره څما لوئي راوكره * تا له جهانه څخه هرو
هغو لره چه ما لره راکري دي په نوم دهغو دستا نوم ما
ظاهر كري دي هغه دستا وو او تا هغو لره ما ته راکري
۷ دي او هغو ستا خبره ساتلي ده * او اوس هغو پيژندل
كړي دي چه هر هغه چه تا ما لره راکري دي هغه واړه
۸ له تا څخه شوي دي * څلره چه هره خبره چه تا ما لره

راکړي ده هغه ما هغوله ورکړي ده او هغو هغه اخستي
ده او هغو تحقیق کنړلي ده چه زه لهٔ تاڅخه راغلی یم او
۹ هغو یقین کړې دي چه تا زه رالیږلي یم * زه دپاره دهغو
دعا کوم زه دپاره دجهان دعا نکوم منګر هرو هغوله
چه ماله دراکړې دي دپاره دهغو څلوه چه واړه دي
۱۰ ستا دي * او چه څما دي هغه ستا دي او چه ستا
دي هغه څما دي او په هغوکښ څما لوئي ظاهره شوې
۱۱ ده * زه په جهان کښ نور نه اوسم لیکن دغه په دنیا کښ
اوسي او زه په نزد ستا درځم اې پاکه پلاره هرو هغوله
چه ماله دراکړي دي پخپل نامه سره دهغو ساتنه
وکړه چه هوئږه دارنګ لکه چه یو یو هغه دارنګه یو
۱۲ شي * زه هرڅو ورځي چه دهغو سره په دنیا وم دوهغو
ورځي ستا په نامه سره هغوله ساتل وکړل تاهرو هغوله چه
ماله راکړي دي هغوله ما ساتل کړي دي او په کتاب کښ
هرڅه هغه چه دپاره دتهامیدو دوارو په منځ کښ
۱۳ له هغو یو سړي ورک کړي شوې ندي * بغیر له هلاکیدو
زوئه اوس زه په نزد ستا درځم او څما خوشحالي
په هغوکښ دپاره دپوره کیدلو زه دغه خبره په جهان کښ
۱۴ وایم * هغوله ستا خبره ما ورکړي ده او جهان هغوله
کینه کړي ده څلره دارنګه لکه چه زه دجهان نیم
۱۵ دارنګ دوي هم دجهان خلق ندي * زه دعا نکوم
چه ته هغوله لهٔ جهانه څخه واخلي لیکن چه هغوله
۱۶ له ګناه څخه ساتل کوئي * دارنګ لکه چه زه له
دنیا څخه نیم دارنګه دوي هم له دې دنیا څخه ندي *
۱۷ هغوله ستا له صداقت څخه پاک کړه ستا خبره

۱۸ رېښتيا دي * دارنګ لکه په دنيا کښ تا ما لره رالېږل کړي
۱۹ دي دارنګ ما هم دغو لره په جهان کښ لېږلي دي * او
دپاره دغو زه ځان ځپلا پاک وم چه دوي
۲۰ لا صدقه ځه صاف شي * زه صرف دپاره دغو دعا
نکوم ليکن هر هغه چه دغو خبره اوريدلي پيا بانه
۲۱ په يقين کړي دپاره دغو هم * چه دوي يو شي اې
پلاره زه دعا کوم چه دارنګ لکه چه ته په ما کښ يې او زه
په تا کښ يم دوي هم دارنګ په مونږه کښ يو شي چه جهان
۲۲ يقين کړي چه تا زه رالېږلي يم * او هغه لوئي چه تا
ما لره راکړي ده هغه لوئي ما دغو لره ورکړي ده چه
مونږه دارنګ لکه چه يو کېږو دوي هم دارنګ يو شي *
۲۳ زه په دغو کښ او ته په ما کښ چه هغه په يو کښ پوره شي چه
دنيا معلوم کاند چه تا ما لره رالېږلي دي او دارنګ
لکه چه ما لره محبت کړي دي دارنګ دغو لره محبت
۲۴ کړي دي * اې پلاره تا دغو لره چه ما لره راکړي
دي زه غواړم چه ځيا هر هغه لوئي چه تا کړي دي هغه
لوئي دپاره دليدو زه هر هغه ځاي چه اوسم چه هغه هم
ځاي په نږده ځيا اوسي ځلوه چه دنيا لدي هغه پښودو
۲۵ په خوا تا ما لره محبت کړي دي * اې صادقه پلاره چه
جهان تا لره پېژندلي نه دي کړي ليکن ما ته پېژندلي تا
۲۶ چه زه رالېږلي يم دغو هم معلوم کړي ده * په نږده
دغو ما دستا نوم ظاهر کړي دي او ظاهر به ئي کړم چه
دغه هغه محبت ځکه چه تا ما لره محبت کړي دغه
صحبت دپه دغو کښ وي او زه هم په دغو کښ يم *

## ۱۸ اتلسم باب

۱ یسوع دغه خبره کړې دخپلو شاګردانوسره لهٔ کدرون
دریابه څخه پورې شه په هغه ځایکښ یوه باغیچه وه
په هغه باغکښ دې هغه دهغه شاګردان ننوتل *
۲ یهودا تګ هم هغه ځای معلوم کړ ځلره چه دخپلو
۳ شاګردانوسره یسوع کله کله هلته ګډ * هغه وخت یهودا
پهٔ نزد دسردارانو دکاهنانو او پهٔ نزد دفریسیانو فوج
او حوالدار موندلې څراغونه او مشالونه او وسله
۴ پلاسکښ اخستې په هغه ځایکښ راغې * دپاره ددیه
هر هغه خپل حال چه وبشې دغه معلومه کړې یسوع
بهر لاړ شه او هغوته ئې وویل چه تاسو دچا لټول کوئ *
۵ هغو دهٔ لره جواب ورکړ چه یسوع ناصري لره یهغه باند
یسوع هغولره وویل چه زهٔ هغه یم یهودا تګ هم دهغو
۶ سره ولاړ شه * زهٔ هغه یم هغه هغولره دغه خبره ویله
۷ دوې دورسته ورستو تللې پهٔ خاورو باندې پریوتل * هغه
وخت دهٔ بلهٔ هغولره پوښتنه وکړه چه تاسو چالره
۸ لټول کوئ هغو وویل یسوع ناصري لره * یسوع جواب
ورکړ چه تاسوته ما ویلي دي چه زهٔ هغه یم دپاره ددیه
۹ که خما لټول کوئ ترو دیولره تلل ورکړئ * دغه وارهٔ
وشول چه دغه خبرهٔ ئې چه کړې وه هغه دپوره شي *
۱۰ چه هرو هغولره چه تا مالره راکړي دي دهغو
پهٔ منځکښ ما یو سړی هم ورک کړی ندی دشمعان
بطرسسره یوه توره وه هغه دغه وخت هغه یستلې دسردار
کاهن یوه نوکرلره ئې وواههٔ او دهغه ئې ښی غوږ پریکړ
۱۱ ده هغه نوکر نوم ملخس * هغه وخت یسوع بطرسلره

وویل چه دستا توره دهغې په تیکه کښې پیرته ورکړه
څه هغه پیاله چه څما پلار ماله راکړي ده
١٢ هغه بڅه زه نسکم * پس لښکر فوج او سردار او
١٣ په یهودیانو کښې چاکرانو یسوع لره نیولي وتاړه * او
وړنبي ئې هغه لره په نژد دحنا بوتلو چه هغه
١٤ دقیافا خسر وه څرنګه چه دهغه کال سردار کاهن * دغه
قیافا هغه څوک وه چه دغه مصلحت یهودیانو لره ورکړي وه
چه یو سړي لره دپاره دبدل دخلقو وجلل مناسب دي *
١٥ سمعان پطرس او بل یو شاګرد په یسوع پسې لاړل هغه
شاګرد په نژد دسردار کاهن شناسا وه او دیسوع سره
١٦ دسردار کاهن په دالان کښې لاړشه * لیکن پطرس په نژد
ددروازې بهر ودریده هغه وقت هغه بل شاګرد چه په نژد
دسردار کاهن شناسا وه هغه بهر لاړشه او دروانچي ته ئې
١٧ ولي پطرس لره ئې دننه راووست * پس لهغه هغه ښځه
چه دروانچي وه هغې پطرس ته وویل چه ته څه
ددیه سړي یو شاګرد نه یې هغه وویل چه زه هغه
١٨ نیم * نوکرانو او سردارانو خلقو هغه ځاي ودریدلي او
دپاره دسړو ئې دسکرو اور بل کړي تود شه هغه وقت پطرس
١٩ دهغو سره ودریدلي په اور تود شه * پس لهغه سردار کاهن
دهغه دشاګردانو او دتعلیم په حق کښې یسوع لره پوښتنه
٢٠ وکړه * یسوع هغه ته ځواب ورکړ چه ما ظاهر دنیا ته
وویل په سینګګ کښې او په هیکل کښې ما همیشه تعلیم
کړي دي هرهغه ځاي چه یهودیان همیشه ځي او ما
٢١ پټ هیڅه ویلي ندي * ماله دپاره دڅه پوښتنه کوې
هرو هغو چه څما تعلیم اوریدلي دي هغو لره پوښتنه

کوونکي چه ما هغوی ته څه خبره کړي ده ګوره ما هر څه
۲۲ خبره چه کړي ده هغه دوی پوهیږي * هغه دغه خبره
کوي پدیه کښ لږه موجود یو سړي سردار یسوع لره
په څپیړه وهل وکړل او وی ویل چه ته څه دا رنګ سردار
۲۳ کاهن لره دا رنګ ته ځواب ورکوي * یسوع ځواب ورکړ
که ما بده خبره کړې وي ترو دغې بدي شاهدي
واکړه لیکن که ما ښه خبره کړي وي ترو مالره څله
۲۴ وهي * حنا په تړوه د سردار کاهن قیافا هغه ته رلیږلي
۲۵ ورلیږلي وه * شمعون پطرس ودرېدلي په اور باند تود
وه هغه وقت هغو هغه ته وویل چه ته څه د دوی سړي یو
۲۶ شاګرد نه یې هغه انکار وکړ او وي ویل چه زه هغه نیم * د هر
هغه څخه خوئ چه پطرس پریکړي وه د هغه تبر د سردار
کاهن یوه نوکر وویل چه په باغیچه کښ ما څه د هغه سره
۲۷ ته لیدلی نهي * هغه وقت پطرس بلاهیر منکر شه او هغه
۲۸ وقت چرګ بانګ وکړ * پس له هغه صبا دوی په تړوه د قیافا
عدالت په کور کښ یسوع لره یوړ او په خپله د عدالت
په کور کښ لاړ نشول چه ناپاکه نشي لیکن چه فصح وخوري *
۲۹ هغه وقت پیلاطس بهر تللی وویل چه پدیه سړي
۳۰ باند تاسو څه تهمت کوئ * هغو ځواب ورکړي هغه
ته چې وویل چه که هغه بدکار نه وي ترو په تړوه دستا
۳۱ پلاسو کښ هغه لره نه سپارو * هغه وقت پیلاطس هغوی ته
وویل چه تاسو هغه لره واخلئ په خپل د خپل توریت
۳۲ هغه لره انصاف وکړئ * په هغه کښ یهودي په هغه شان مرګ
سړه مړ شي هغه معلومول لره یسوع هره هغه خبره
چه کړې وه هغه خبره پوره د تمامیدو یهودیانو

هغوته وويل چه هيڅوک سړي لره وژلل موږ لره مناسب
٣٣ نه دي * هغه وقت پيلاطس بل ځل د عدالت په کور کښی
ننوتي او يسوع لره بللي وي ويل چه تا څه د يهوديانو
٣٤ بادشاه * يسوع هغه ته ځواب ورکړ چه ته څه لو ځانه
ځانځنځه دغه خبره کوي يا بل څه نور وچا څها پحق کښی
٣٥ دغه خبره تالره کړي ده * پيلاطس ځواب ورکړ چه
زه څه يهودي يم ستا خپل قوم او سرداران کاهنانو تالره
٣٦ په لاس ځها سپارل کړي تا څه کړي دي * يسوع ځواب
ورکړ څها بادشاهي ددې دنيا نده ځها بادشاهي که
ددې جهان وي نو ځها نوکرانو به جنګ کاوه
چه زه په لاس ديهوديانو ونشم سپارلي منګر ځها
٣٧ بادشاهي اوس ددې ځاي نده * دپاره ددې پيلاطس
هغه ته وويل نو څه ته بادشاه يې يسوع ځواب ورکړي
وي ويل چه ته وائي چه زه بادشاه يم دپاره ددې زه
زيږدلي يم او د صدق شاهدي ورکولو لره په دنيا کښی راغلم
هر يو سړي چه د صدق په طرف شي هغه ځها خبره اوري *
٣٨ پيلاطس هغه ته وويل چه صدق څه او دغه ويلي
هغه بيا په لاس ديهوديانو بهر لاړشه او هغوته ئي وويل چه
٣٩ زه د هغه هيڅه ګناه بيا نه موم * ليکن د تاسو يو دستور دي
چه زه د فصح په وقت يوه سړي لره په لاس د تاسو خلاص کړم
دپاره ددې دغه څه د تاسو اراده ده چه زه ديهوديانو
٤٠ بادشاه خلاص کړم * هغو واړو شور کړي وي ويل چه
ندا يه سړي لره منګر باراباس لره براباس غل وه *

١٩ نولسم باب

١ يسوع لره نيولي په پيلاطس تازيانې ووهله * بس لهغه

٢ لښکرو داغزو يوه تاجي جوړه کړې دغه په سر بانديې
٣ ورکړ او يوه بنفشي جامه ئي ورواغوسته * او دغه تنئي
ووېل چه اې ديهوديانو باد شاه سلام عليک شه
٤ هغه ته څېر هم ووتله * دپاره ددې پيلاطس بلهير
بهر تللي هغو ته ئي ووېل چه گوريئې زه هغه لره يه ديزه
دتاسو راولم چه تاسو وپوهيږئي چه هغه لره هيڅه
٥ گناه زه بيا نه مومم * هغه وقت يسوع هغه داغزو تاجي او
بنفشي جامه اغوستي بهر ووت په هغه گيس پيلاطس هغوته
٦ ووېل چه سړيلره گوريئي * دپاره ددې سردارانو
دکاهنانو او حاکمانو هغه لره ليدلي شور کړې وې ووېل
چه هغه لره په صليب باندې خون وکړيئي هغه لره په صليب
باندې خون وکړئي پلاطس هغوته ووېل چه تاسو هغه لره
واخليئي په صليب باندې خون وکړيئي ځلره چه دغه
٧ هيڅ گناه زه نه وينم * يهوديانو هغه لره ځواب ورکړ چه
څمونږه يو آيين دی او څمونږه له آئينه څخه دغه
وجلل مناسب دي ځلره چه ځان خپل لره دخداي زوی
٨ کړي پوهيږي * دپاره ددې پيلاطس هغه خبره زياتي
٩ اوريدلي ډير ووېريده * او بلهير دعدالت په کورکښ تللي
يسوع ته ووېل چه ته له کومه ئي ليکن يسوع هغه لره
١٠ هيڅه ځواب ورنکړ * هغه وقت پيلاطس هغه ته ووېل
چه ته څه مالره ځواب نه راکوي چه ته څه نه پوهيږي
چه تالره په صليب باندې دخون کولو يا دخلاصي قدرت
١١ شته دي * يسوع ځواب ورکړ لاپاسه که هغه تالره
درکړي شوي نه وي ترو په ما باندې دستا هيڅه مالره قدرت
په نشه کيدې دپاره ددې هرڅه چه مالره په لاس سپارل

١٢ ګړي دي دهغه زياتي ګناه دي * او لهغه وخته څخه دغه لره
دخلاصولو لره پيلاطس فکر وکړ منګر يهوديانو شور کړي
وي ويل چه که ته دغه سړي لره پرېږدې نو ته دقيصر
دوست نه يې هر هغه سړي چه خپل ځان لره بادشاه کړي کيږي
١٣ هغه مخالف دقيصر دايي * دپاره ددغه پيلاطس دغه خبره
اوريدلي يسوع لره وبوست او پتربند نوماند يو ځايې کښې
دعدالت پهمسند باند کښيناست پهعبري ژبه کښې دهغه
١٤ ځايې نوم ګبتا * دفسح دتياري کولو دغرمي وخت
شه هغه وخت يهوديانو لره هغه وويل چه دتاسو بادشاه لره
١٥ ګورئي * ليکن هغو شور کړي وويل چه لري کړه لري کړه
هغه لره پهصليب باند خوت وکړئي پيلاطس هغو ته وويل چه
زه څه دتاسو بادشاه لره پصليب باند خوت وکړم سردارانو
دکاهنانو ځواب ورکړ چه بي لهقيصره موږ لره بادشاه
١٦ نشته دي * هغه وخت پهصليب باند دپاره دوجلو هغه لره
١٧ پهنژد دهغو وسپاره او دوي يسوع لره نيولي بوت * پس لهغه
هغه خپل صليب وړي دسرونو کپړي نوماند منګر پهعبري
١٨ ژبه کښ ګلګتا نوماند يوه ځايې لره لاړل * هغو دهلره هغه
ځايې پهصليب باند پتد کړ او دهغه سره نور دوه سړو لره
١٩ يو يو طرف يوه يوه سړي لره او يسوع لره پهمنځ کښ * او
پهصليب باند پيلاطس يوه ليکلي ورکړه چه دغه يسوع
٢٠ ناصري ديهوديانو بادشا * هغه وخت ډيره يهوديانو هغو
ليکليو لره ئي ولوستل ځکه چه هر هغه ځايې چه يسوع
پهصليب باند مړشوي وه هغه ځاي و ښهر ته نژد وه هغه
٢١ ليکلي پهعبري او پهيوناني او پهرومي ژبه کښ وو * هغه

وقت دیهودیانو سردارانو کاهنانو پیلاطس لره وویل چه
دیهودیانو بادشاه مه لیکه لیکن ونیکه چه ده ځان دپلاره
۲۲ دیهودیانو بادشاه ویلی منلی دی * پیلاطس ځواب ورکړ
۲۳ چه ما هرڅه چه لیکلي دي هغه لیکلي دي * هغه وقت
فوج یسوع لره پهصلیب باند بند کړي دهغه جامولره ئي
څلور حصي کړلي دیوه یوه سپاهي یوه یوه حصه دهغه
قمیص هم پهغه شان سره شوله دهغه دقمیص ډیڅه درز
۲۴ نهوه لهپاسه تر ښکتهپور واره جوړوالي * پهکتاب کښ دره
هغه خبره چه لیکلي شوي ده چه هغو ځما جامي حصي
کړي واخستی او ځما دقمیص دپاره شرط وکړ حسنري
واچوه دغه کتاب دپاره دتیامیدو هغو بوتربله وویل چه
مونږه دغه څیري نکړو لیکن حسنري کړي معلوم کړو چه
۲۵ هغه بهدچاشي لښکر دغه واره وکړل * دیسوع دصلیب
دڅنګه دهغه مور او دهغه ترور او دکلیوپا ارتینه مریم
۲۶ او مریم مجدلانیه ودریدلي وي * دپاره ددیه یسوع خپلي
مورلره او مینن شاګردانولره و دریدلي لیدلي خپلي مورته
۲۷ وویل چه اي ښځي دستا زوي لره کوره * پس لهغه دغه
شاګرد ته وویل چه ستا مورلره کوره پهغه ساعت کښ
۲۸ هغه شاګرد هغهلره وخپل کورته بوت * پس لدیه
شوي قول کار چه پوره شه یسوع دغه وپوهیده
۲۹ دپاره دتیامیدو دکتاب مقدس وویل چه زه تږی یم * هغه
وقت لهسرکې څخه دک یولوښی پهغه ځای کښ ښنې
شوي وه دپاره ددیه هغو بواسفنج لسرکې څخه دک کړي
هغه پهدرهه باند ورکړ دهغه بهخوله کښ ئي ورکړ *
۳۰ یسوع هغه سرکه څکلي ویوویل چه تمام شوي دي

۳۱ پس لهغې سونبکته کړي ځانګي پريښود * دتيارېدو
وقت لهشولوځخه بدنګي پهصليب باند دسبت
ورځي لره دپاره دغه پاتيکيدلو يهوديانو پيلاطس لره
زاري وکړه چه دهغو ښپې دماتيکړي شي او دوغې
ديوړلي شي ځلره چه هغه دسبت ورځ ډيره لويه ورځ
۳۲ ده * هغه وقت لښکري راغلي هرهغه چه دهغه سره
پهصليب باند بند وو دهغو پهمنځکښ دوړنبي ښپه او دبل
۳۳ سړي هم ښپهګي ماتيکړلي * منګر پهنژد ديسوع راغلي
او هغه چه اوس مړ شه دغه ليدلي هغو دهغه ښپه ماته
۳۴ نکړه * ليکن يوه سړي سپاهي لهنيزيځخهګي دهغه پوښتي
۳۵ سوري کړي دپاره دهغه ويني او اوبه ژر ووتي * او هغه
ليدونکي يوه سړي شاهدي ورکړه او دهغه شاهدي
۳۶ رښتيا او دپاره ديقين کولو دستاسو هغه پوهيږي * هرهغه
چه وايي هغه رښتيا دپاره دتماميدو لهخبري ددغه کتاب
۳۷ دغه واره وشول دهغه يهيو هډ ماتول مات نشي * او بيابل
کتاب هم وايي چه هرهغه لره چه دوي سوري کړي دي
۳۸ پيغه باند بهدوي نظار کوي * دارمايا يوسف ديسوع
يو شاګرد وه منګر ديهوديانو لهډريځخه پټ وه پس
لديه هغه يوسف چه ديسوع بدن پخپله يې زاري
پهنژد دپيلاطس وکړه هغهوقت پيلاطس هغه کولوره حکم
ورکړ دپاره ددیه هغه راغلي ديسوع بدنګي يوړ *
۳۹ نيقوديمس راغي هرهغه هم چه وړنبي شپې لره پهنژد
ديسوع راغلي وه هغه اوږه مرو لو دعودو ګډ کړي ځيز
۴۰ ديتغوس سيره قدر راوړ * پس لهغه ديهوديانو قبر
ورکولو ددستور پخير هغو ديسوع بدن اخستي مسالة

۴۱ ورکړي چه لهٔ جامو څخه ونغښت * هرڅه ځاي چه یسوع
پهٔ صلیب باندې وجلي شوي وه دهغه پهٔ منځ کښې یوهٔ باغیچه
وه پهغه باغ کښې نوي پوخ یو قبر وه چه پهٔ هغه کښې هیڅوک
۴۲ سړي هیڅکله ځملواي شوي نهٔ وه * هغه ورځ دیهودیانو
دتدبیر کولو ورځ وه دپاره ددې هغو یسوع لره
پهغه ځاي ځملاوه ځکه چه هغه پوخ قبر نژدې وه *

## ۲۰ شلم باب

۱ دهفتې څخه پخوا ورځې سحر صباح تیاره وه مریم
مجدلانیه پهٔ نژد دقبر راغلي ولیدل چه هغه کاڼي
۲ لهٔ قبره څخه خوځولي وه * هغهٔ وقت هغه زغلیدلي
پهٔ نژد دشمعان پطرس او هغه شاګرد لره چه یسوع
محبت کړي وه پهٔ نژد دهغه هم راغله او ورته ئې وویل
چه هغو څښتن لره لهٔ قبره څخه وړي دي او
۳ هغلاره ئې چرته ایښي دي هغه موږه نپوهیږو * الغرض سببه
پطرس او هغه بل شاګرد بهر وتلي پهٔ نژد دقبر راغلل *
۴ هغه دوې ورسره وزغلیدل منګر هغه بل شاګرد
لهٔ پطرس څخه زر زغلیدلي ورنبې پهٔ نژد دقبر ورورسیده *
۵ او ښکته شوي هغه ایښي شوي جامه ولیدله لیکن دننه
۶ لاړنشه * پس لهغه شمعان پطرس دورستو راغلي دننه
۷ وقبرته لاړشه * او هغه ایښي شوي جامه او لهغه هغه
رومال څخه چه ددهٔ سر تړلي شوي وه دجامې سره نهٔ وه
۸ منګر تړلي مړلي هغه رومال ئې جدا ولیده * پس لهغه
هغه شاګرد چه پهٔ نژد دقبر ورنبې راغلي وه هغه هم
۹ دننه تللي ولید او یقین ئې هم وکړ * ځکه چه دوې ترڅه
پورې دکتاب پهٔ مطلب خبر نهٔ وو چه هغه بهٔ بیا ئیم

۱۰ بهالبتهٔ لهٔمرګهٔځنځه پورته کیږي * پس لهٔغهٔ شاګردان بیا
۱۱ هیر خپل خپل کورلره لاړل * لیکن مریم لهٔقبره بهر
ژړیدونکي ولاړه پاتي شوه او ژړیدونکي ژړیدونکي قبقه
۱۲ شوي قبرلره‌ئي ولیده * او دیسوع دبدن دملاستو
پهٔځایکښ ناستي سپیني جامي اغوستي دوه فرښتونه‌ئي
۱۳ ولیدلي یوه دسرطرفته او یوه دپښوطرفته * او
هغو هغې‌ته وویل چهٔ ای ښځي څلره ژاړې هغې
هغوته وویل دپاره ددې چهٔ چا سري څما څښتن لره
وړي دی او هغه‌لوهٔئي چرته ایښي دي دغهٔ زهٔ
۱۴ نپوهیږم * هغې دغهٔ خبره ویلي مخ جارپاستلي
یسوع ولاړ شوي ولید لیکن ونپوهیده چهٔ دغهٔ
۱۵ یسوع دي * یسوع هغې‌ته وویل چهٔ ای ښځي ته‌ولي
ژاړې دچا لټول کوئې هغې هغه‌لره باغوان ګڼرلي
وي‌ویل چهٔ ای خاونده که تا هغه‌لوه لهٔ‌ځایه‌ځنځه
وړي وي تهٔ ماله ووایه چهٔ هغه‌لره دچرته ایښي دي
۱۶ چهٔ لهٔهٔځایه‌ځنځه زهٔ هغه‌لره یوزم * یسوع هغې‌ته وویل
چهٔ ای مریمې هغهٔ جاروتلي هغه‌ته‌ئي وویل چهٔ ای
۱۷ ربوني یعنې ای څما معلمه * یسوع هغې‌ته وویل
چهٔ ماله مهٔ مسکهٔ کوه څلره چهٔ زهٔ لا اوس پهٔنژد
دخپل پلار پاځدلي نیم لیکن پهٔنژد دورونرو څما تللي
هغوته ووایه چهٔ څما دپلار او پهٔنژد دپلار دتاسو او څما
۱۸ دخدای او پهٔنژد دخدای دتاسو زهٔ پاځم * مریم
مجدلانیه راغلي شاګردانوته‌ئي وویل چهٔ دخپل خاوند
ملاقات‌ئي موندلي وهٔ او هغهٔ دغهٔ خبري هغه‌ته ویلي
۱۹ وې * پښوا ورځ کښ دهٔغتي پهٔځهٔ ورځ دهٔبنام پهٔوخت

هغه ځاي چه دیهودیانو لهویرې شاګردان جمع
شوي وو دغه ځاي لهلګېدلو دتنبو پس یسوع راغلې
پهمنځ کښ ودریده او هغوړلهئې ووېل چه دتاسو سلامتي
۲۰ دوشي * هغه دغه خبره کړي خپل لاس او پوښتي هغوته
ورونیول هغهوقت شاګردانو خاوندلره لیدلي خوشحال
۲۱ شول * هغه وقت یسوع بیا هغوته ووېل چه دتاسو سلامتي
دوشي دارنګ لکه چه ځما پلار زه رالیږلیم دارنګ
۲۲ زه تاسولره لیږل کوم * او هغه دغه خبره کړي پهغو بانه
۲۳ اسولي ورکړلره وئې ووېل چه روح القدس بیاموسئ * دهرو
هغوګناه چه تاسو معاف کوئ پهغو بانه دوي معاف کړي
شوي دي او دهرو هغو ګناه چه وتاسو پڅیر پریږدئي
۲۴ دوي همدارنګ زدي شي * لیکن توما نومانه پهدو لسوکښ
یوسړي دهغه لقب دیدمس هرهغه وقت چه یسوع راغي
۲۵ هغهوقت هغه دهغوسره نه وه * دپاره ددیه نورو شاګردانو
هغهته ووېل چه موږه خاوندلره لیدلي دي لیکن هغه
ووېل چه دهغه پهلاس کښ ځاغزو داغ بغیر لیدلي او ځما
ګتي داغزو پهداغ کښ بغیر ورکړې او دهغه پهپوښتوکښ
۲۶ ځما لاس هم بغیر ورکړي زه یقین نکوم * پس لهاتو ورځو
دهغه شاګردان بیا دننه وو او توما هم دهغوسره وه هغه
وقت پهبندواوه تالبو بانه وايي یسوع او پهمنځ کښ دریده
۲۷ او وئېووېل چه دتاسو سلامتي دوشي * پس لهغه هغه توماته
ووېل چه دستاګته ووړده کړې ځما لاس ګوره او دستا
لاس ووړه کړې ځما پهپوښتي کښ ئې راکړه مې یقینه
۲۸ مشه لیکن اعتقاد کوونکي * پهغه بانه توما ځواب ورکړ
۲۹ هغهته ووېل چه اې ځما خاونده او ځما خدایه * هغه

وخت یسوع هغهٔ ته وویل چه ای توما ما لره لیدلي
تا یقین کړی دي هغو چه نه لیدلو یقین کړی دی هغه
۳۰ مبارک دي * او ډیر نور عجیبه کارونه یسوع دوړاند
دخپلو شاګردانو وکړل هر هغه چه پدې کتاب کښ لیکلي
شوي ندي لیکن چه دغه لیکلي شوي ده چه
تاسو یقین کوئ چه یسوع دخدای زوی مسیح دی
او یقین کړی ده هغه دنامه له وسیلې څخه ژوندون
بیاموموئ *

## ۲۱ یوویشتم باب

۱ پس لدې دتبریا دریاب پهٔ کناره بل ځل پهٔ نژد
دشاګردانو ځان ښکاره وروښود او دارنګ هغه ښکاره
۲ ځان لره وروښود * شمعون پطرس او توما چه دغه توم
دیدمس او دجلیل دکانا نتنیل او دزبدي زوي او دهغه
۳ نور دوه شاګردان یو ځای شول * شمعون پطرس دغوته
وویل چه زهٔ ماهو وجلولره ځم هغو وویل چه موږ هم
ستاسره ځو هغه وخت دوی تللي ژر پهٔ بیړی باند
۴ سوار شول او هغي شپې لرهٔ هیڅه ونه نیول * پس
لهٔ صبا کیدو یسوع پهٔ کناره ودریده لیکن شاګردان
۵ ونهٔ پوهیدل چه هغه یسوع دی * هغه وخت یسوع
هغوته وویل چه ای هلکانو پهٔ نژد دتاسو څهٔ خوراک لره
شته دي هغو هغهٔ لره ځواب ورکړ چه نشته دی *
۶ هغه هغو ته وویل چه دبیړي ښي طرف جال
وغورزوئ هغه وخت به بیاموميئ دپاره ددې هغو
لهٔ غورزولو هغه پس دهٔ یرو ماهو لهٔ باره څخه رانیکول
۷ نشول کول * دپاره ددې هر دغه شاګرد لره چه

يسوع محبت کړی وه هغه شاګرد پطرس ته ووېل
چه هغه څښتن دی هغه څښتن دی سمعان پطرس
دغه خبره اورېدلې دخپل ماهيګيري پوشاک په ځان
وتاړه ځکه چه هغه بربنډ وه پس ځان يې په درياب کښې
۸ ودنګل * نور شاګردان هم جال له ماهيانو سره راښکول
راښکول په ورو بېړۍ باندې کناري لره راغلل ځکه چه
۹ کناره ډېره لرې نه وه مګر دوه سوه لاسه قدر وه * دوی
په کناره لګېدلي د سکرو سور شوي اور وليد او ماهي په هغه
۱۰ باندې او روټۍ هغه ځای وليده * يسوع هغوته ووېل
چه هغه ماهي چه اوس تاسو نيولي دي د هغو نه
۱۱ راوړئ * سمعان پطرس تللی له لويو ماهيانو څخه ډک جال
کناري ته راښکو يو سو دري پنځوس ماهي وو ليکن
۱۲ له دې قدره ډيرواليه څخه هم جال څيری نشه * يسوع
هغوته ووېل چه راځئ خورئ او ته څوک يې هغه لره
دغه دپوښتني دهيڅا شاګرد قدرت نه وه ځکه چه
۱۳ هغو وپيژاند چه هغه خاوند دی * هغه وقت يسوع
راغلی روټي او ماهي يې واخستل او هغولره يې ورکړل *
۱۴ پس له ځيله مړو څخه پاڅېدو اوره خپلو شاګردانو
۱۵ د يسوع ملاقات کولو دريم ځير دغه * پس
له خوراکه يسوع سمعان پطرس لره ووېل چه اې
ديونا زويه سمعانه ته څه له دې و څخه ما لره محبت
کوې هغه ده ته ووېل چه او خاونده ته پوهېږې
چه زه تا لره محبت کوم ده هغه ته ووېل چه څما د کډو
۱۶ زامنو لره ساته * ده بل ځير هم هغه ته ووېل چه اې
ديونا زويه سمعانه ته څه ما لره محبت کوې هغه

ووېل چه او خاونده ته پوهېږې چه زه تا لره محبت
١٧ کوم ده هغه ته ووېل چه ځما کډولره ساتنه کوه * ده
هغه ته دريم هير ووېل چه اي ديونا زويه سمعانه
ته ځه ما لره محبت کوې پطرس زهير شه چه هغه دريم
هير ووېل چه ته ځه ما لره محبت کوې او ده ووېل
چه اي خاونده ته واړه پوهېږې ته پوهېږې چه زه
تا لره محبت کوم يسوع هغه ته ووېل چه ځما کډولره
١٨ ساته * رښتيا رښتيا زه تاسو ته وايم چه هر کله وقت چه
ته ځوان وې هغه وقت تا خپله ملا تړلې هر چرته
چه ستا رضا وه هلته تللې وې ليکن هر کله چه
زوړ شې هغه وقت به ته خپل لاس وغوړه وې او بل
څوک به تا لره تړلې هر هغه ځاي چه دستا مرضي
١٩ نه وي هغه ځاي به تا لره بوزي * هغه چه له سرکه ځځه
ځداي لوئي ظاهره کاند دغه دپاره دي پوهولو هغه
دغه خبره وکړه هغه دغه خبره کړي هغه ته ئې ووېل
٢٠ چه پښا پسې راځه * پطرس پښان جاروتلي هغو
شاګردانو لره ئې دورستو راتلونکي وليدل هر هغه لره چه
يسوع محبت کړي وه او په وقت دخوراک دشپې دهغه
په سينه باندې ده هغه تکيه کړي ووېل چه اي
خاونده تا لره به ده بل قبض کېږ چه کاند هغه څوک دي *
٢١ پطرس هغه لره ليدلي يسوع ته ئې ووېل چه اي خاونده دغه
٢٢ سړي بهم څه وکاند * يسوع هغه ته ووېل که ځما
اراده وشي چه هغه ځما تر راتلو پور اوسي ترو
٢٣ هغه دستا څه کار ته پښا پسې راځه * هغه وقت

دغه خبره پهوروڼوکښ خوره شوه چه هغه شاګرد
به مړنشي ترو هم يسوع ويلي ندي چه هغه به نه مري
ليکن که ځما اراده وشي چه ځما تر راتلو پور اوسي
۲۴ ترو هغه دستا څه کار دي * دغه هغه شاګرد چه
ددې متدمي شاهدي ورکوي او دغه خبره ليکلي ده
۲۵ او موږه پوهيږو چه دهغه شاهدي رښتيا ده * لهيسوع
څخه کړي شوي نور نور ډير کارونه هم دي
هغه واره که وليکلي شي ترو زه پوهيږم چه دنيا
بهپخپله هغه واره ليکلي شوي کتابونه ساتلي نشي *
امين *